# خطرناک سفر



# خطرناک سفر

خپرونکی
Crisis Response and Policy Centre
office@crpc.rs

ژباړونکی / ترجمان
Fazal Abdul Bari

هغه اندیښنې چې د لیکوالانو او ادالرانو دي، او په ضروري ډول د یونیسف پالیسي یا نظرونه منعکسوي

بیلگراد ۲۰۱۹




په کوچنیانو کار کول د قانون خلاف دي. کوچنیان باید لکه د خښتو اچول او داسې نور سخت او خطرناک کارونه ترسره نکړي. دوی ښوونځي ته نشي تللی او که همداسې سخت کارونه ترسره کړي نو د دردېدو لامل یې کیږي.




قاچاقبر دروغجنې وعدې ورکوي. دوی کوچنیان او د هغوی کورنۍ تېرباستلی شي. اروپا ته سفر ډېر اوږد او سخت دی. ممکن کافي غذا ونلرې. هوا هم کېدای شي ډېره یخه یا ګرمه وي. معمولاً په لار کې غله وي. د ځینې بد انسانانو له لوري ممکن تاسو سره جنسي تشدد لا زیاتی وشي. حتی د ګروپ خپل خلک هم ممکن خطرناک وي. تولې پولې خطرناکې دي.




قاچاقبري په دې غیرقانونی سفر کې ډیر ماشومان باید کار وکړي تر څو یې قاچاقبر ته ورکې.

د بغیر د اسنادو وړو ماشومانو مزدوري باید منع شي. د لږ پیسو په بدل کې ډیر او سخت کار د کوچنیانو سره زیاتی دی او یو غیر قانوني کار دی.




د بارډر (پولو) د پولیسو بده رویه د انساني اصولو خلاف ده. د ماشومانو بندي کول او ددوی حق خوړل د کوچنیانو د حقوقو نه سرغړونه ده.

هر فرد حق لري چې یو وطن ته داخل شي او د اسیدو ځای ولري تر څو د ښه ژوند په لټه شي.




ماشومانو سره جنسي تیری کیدای شي او جنس(ځان) پلورني ته اړ کیږي.
دوی د مخدره(نشه یی) موادو د خرڅولو دپاره استعمالیږي.
دوی کله نشیان کیږي هم او زندانی کیږي.




ماشومان په ورځو ورځو د کوره بهر ویده کیږي ترڅو منزل ته ورسیږی. کیدی شی دوی لوږ شی په تکلیف شی او چې ډیر یخ یا ګرمی وی مریض هم شی. هاسټل او شخصي کورونه هم د دوی لپاره محفوظ نه وی.




هلته ځایونه شته کوم نه چې ماشومان ګټورمعلومات ترلاسه کولای شي.که چیرته دوی وویریږی نو دمرستی پوښتنه کولای شي .دوی د هستوګنځای او غذا پوښتنه کولای شي .دوی کولای شي چې خبرې وکړي له هغې داداری سره کوم چې مرسته کوي ماشومانو سره او له ژباړونکي سره چې ددوی په ژبه خبرې کوي.



ماشومان باید ثبت شي ترڅو خپلو حقوقو ته ښه لاسرسی ولری.ماشومان کولای شی چې پاتې دماشومانو د هستوګنځای په مرکز کې.د مرکز نظم او اداره لری ماشومان به په تلو او راتلو کې ازاد وي.دوی به هلته غذا او ډاکتر ولری ماشومان به لباس او بوټونه هم ولری.

کله چې کوچنیان کوم مرکز ته ځي نو هلته ورته یو سرپرست ټاکل کیږي چې ددوی اړتیاوې پوره کوي.
کوچنیان ښوونځي ته تللی شي. سرپرست له کوچنیانو سره د هغوی په بل هېواد کې د ځای پر ځای کېدو لپاره د غوښتنې مرسته کولای شي. حتی که کوچنیان ونه غواړي هم، اما دوی باید یو محفوظ د اوسېدو د ځای، ښوونځي ته د تللو، له ډاکټر سره د لیدلو او حق ولري.




هر ماشوم بل هېواد کې د ځای پر ځای کېدو درخواستی حق لري. په سربیا کې هغه کسان چې عمر یې له اتلسو(18) کم دی کوچنی ګڼل کیږي او د ټولنیزو چارو مسوول له تاسو سره مرستې ته مسوول ګڼل کیږي.
سرپرست له کوچنیانو سره د بل هېواد کې د پناه اخیستو درخواست کې همکاري کوي.



ماشومان د خپل فامیل تر فشار لاندی وی. فامیل د سفر له خطر نه دی خبر دوی ندی خبر چی څومره سخت ده په گیم(سفر) تلو کی.








کوچنیانو ته حتی په منزل مقصود هېوادونو کې هم خطر پېښېدلای شي. دوی ممکن خرڅ شي. ممکن د غلام په څېر ګټه ترې واخستل شي. جنسي تیری پرې وشی او یا له نورو لارو یې جنسی ځورونه وشي. او دوي به له جدی خطر سره مخ وي په هغه هېوادونو کې چېرته چې دوی په ناقانونه توګه ژوند کوي.

- سربیه په اروپا کی یو هیواد ده,مگر په اروپایی ټولنه کی نده لکه جرمنی او فرانسه. دا یو غنی(مالداره) هیواد نده مگر محفوظ ده.
- د بیلابیلو مذهبونو خلک دلته ژوند کوی او په وړیا(آزاد) ډول خپل عبادت کولی شی.
- هر څوک په شمول د کډوال(مهاجر) باید د قانون درناوی وکړی.
- عامی یا محلی پیسی یی سربیایی دینار دی. محلی ژبه یی سربیایی ده او ډیرئ خلک یی په انګلسی خبری نکوی.
- هره ټولنه خپلی قایدی لری او تاسو باید دټولنیزو قایدو درناوئ وکړئ.
- لکه څنګه چی سربیا یو تنوع(مختلف) هیواد دی, نو ممکن خلک پکی ستاسو په لیدو مختلف فعالیتونه ترسره کړی.
- لکه څنګه چی سربیا یو تنوع(مختلف) هیواد دی, نو ممکن خلک پکی ستاسو په لیدو مختلف فعالیتونه ترسره کړی.
- کله چی بس ته خیژو نو مونږ باید ټیلی ونه وهو او کوښښ وکړو د نورو خلکو د غورزیدو مخنیوی وکړو.
- په عامو ځایونو کی شور مه کوی او په واټونو(کوڅو) کی خځلی(کثافات) مه غورزوی, دا بد ګڼل کیږی.
- لکه څنګه چی په نورو هیوادونو کی, نجونی او ښځی په سربیا کی هم له کوره بهر زی او کار کوی. دغه نجونی او ښځی مستحق دی چی قدر یی وکړی هغه څوک چی په کور کی پاتی دی. کله چی دوی نه غواړی نو تاسو باید هیڅکله هڅه ونکړی چی ښځو ته ځان ورنږدی کړی. نارینه او ښځی په عامه توګه کولی شی چی یو بل له لاسه ونیسی او ښکل یی کړی.
- د هستوګنځی په هر مرکز کی قواعد شته. دغه قواعد په مختلفو مرکزونو کی توپیر لری، مګر مهمه دا ده چی د دوی درناوی وشی.
- په کوم ځای کی چی تاسو ژوند کوی، باید د خپلو شخصی شیانو ساتنه وکړی او خپله خونه(اطاق) پاک وساتئ. باید کوښښ وکړی خپل ځان پاک وساتئ حتی کله نا کله که ستونزمن هم وی.
- تاسو باید د ځان خیال وساتی. که چیری تاسو ښه احساس نکوی، ځان مو زیانمند نه کړی. له ډاکټر څخه د مرستی غوښتنه وکړی که چیری تاسو په کوم مرکز یا NGO (غیردولتی) ځای کی یاست.
- د خپل شخصی اسنادو پاملرنه وکړی او له لاسه یی مه ورکوی.
- مرکزونو او غیر دولتی ادارو یا ځایونو کی داسی خلک شته چی تاسو ورسره په خپله ژبه خبری وکړی که چیری تاسو کوم مشکل لری او څوک پری نه پوهیږی نو تاسو کولای شی چی له دوی سره اړیکه ونیسی.

که تاسو وغواړئ له هغه چا سره خبرې وکړو چې ستاسو په
ژبه پوهیږي، له موږ سره اړیکه ونیسئ:

+381600991634

دوشنبه – جمعه ۸ -۲۰س

شنبې – یکشنبې ۸ - ۱۶ س

Miksaliste

Gavrila Principa 15

**Crisis Response And Policy Centre**

**info@crpc.rs**
**www.crpc.rs**

CRISIS
RESPONSE
AND POLICY
CENTRE



Funding provided by the United States Government

CRPC

unicef